مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۴۰۰ د غبرگولي لسمه | د ۲۰۲۱ د مې ۳۱مه | ۷۲۴مه گڼه

کاروبار

۴ مخ

## بنز

مرسدس بنز په مجموع کې ۲ میلیارده او ۱۰۰ میلیونه یورو پانگونه کړې، څو تر ۲۰۳۹ کاله پورې د خپلو موټرونو د کاربن د تولید کچه صفر ته ورسوي.



## کرنې وزارت: د کرنیز سکټور د ملاتړ په موخه بزگرانو ته له یو میلیارد افغانیو ډېر پور ورکوو



د کرنې وزارت چارواکي وايي چې د کرنې د پراختیا صندوق له لارې ۱۴ زره او ۳۰۰ بزگرانو ته ۱.۱ میلیارده افغانۍ پور ورکوي. دوی دغه راز زیاتوي چې دا پورونه د درې او پنځو کلنو دورو لپاره ورکول کېږي.

د دغو پورونو د ورکړې هوکړه لیکونه د کرنې وزیر انوارالحق احدي په حضور کې د کرنې د پراختیا صندوق رییس ایمل ارمان او د کوچنیو پورونو لومړني بانک، اکسس افغانستان، فینکا افغانستان او نوې طرحې شرکت چارواکو ترمنځ چې د کرنیزو پورونو ورکوونکي دي، د کرنې په وزارت کې لاسلیک شوي دي.

د دغو هوکړه‌لیکونو د لاسلیک په اړه جوړه شوې غونډه کې د کرنې وزیر وویل، چې له دغو پورونو څلورځانگړي کرنیز سکټورونه برخمن کېږي. احدي زیاته کړه: « موږ داسې قراردادونه لاسلیک کوو، چې له مخې یې څلور بېلابېلو مالي موسسو ته ۱.۱ میلیارده افغانۍ ورکول کېږي».

# د افغان سولې او جگړې سناریو؛

## ولسمشر غني: روان وضعیت ته په کتو لومړی باید له پاکستان او بیا له طالبانو سره سوله وشي



۳

### په گرمه جگړه کې د سولې خبرو د بیا پیل هڅې

۲ مخ

### رنگمالی پایگاه های سابقه در سرحد

۲ مخ

### د لوگر برید؛ میاشت وروسته د قربانیانو کورنۍ په څه وضعیت کې دي؟

۳ مخ

## سیمه‌ییز چارواکي: په کاپیسا کې د هاوان مرمۍ د لگېدو په پېښه کې ۱۱ ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې

د کاپیسا سیمه‌ییز چارواکي وايي چې په دغه ولایت کې د واده پر مراسمو باندې د هاوان مرمۍ لگېدو له امله اووه ملکیان وژل شوي او څلور نور ټپیان شوي دي.

د دغه ولایت د پولیسو ویاند عبدالشایق شورش وايي چې دا پېښه د تگاب ولسوالۍ په انارجوی سیمه کې شوې ده. شورش زیاته کړې چې د هاوان مرمۍ د طالبانو له خوا توغول شوې او د واده پر مراسمو باندې لگېدلې ده. د هغه په وینا، په وژل شویو او ټپیانو کې ښځې او ماشومان هم شامل دي.

نوموړی وايي چې طالبانو غوښتل په سیمه کې امنیتي ځواکونه په نښه کړي، خو په خبره یې، په دغه برید کې ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې. په ورته مهال طالبانو په دې پېښه کې خپل لاس لرل رد کړي او مسوولیت یې په سیمه کې د مېشتو افغان ځواکونو پر غاړه اچولی دی.

طالبانو ویلي چې افغان ځواکونو د کاپیسا ولایت د تگاب ولسوالۍ په ولې کلا سیمه کې د خلکو په کورونو د هاوان مرمۍ ویشتې چې له امله یې د ښځو او ماشومانو په گډون اته تنه ژوبل شوي هم دي.

تر دې نږدې یوه اونۍ وړاندې په هلمند ولایت کې هم په ورته پېښه کې درې ملکیان ووژل شول او شپږ نور ټپیان شول. تگاب د کاپیسا یو له ناامنه ولسوالیو څخه ده چې د سیمه‌ییزو چارواکو په وینا، طالبان د دغې ولسوالۍ په ځینو سیمو کې حضور لري او پر افغان ځواکونو باندې بریدونه کوي.

## کورنیو چارو وزارت: تېره میاشت د جگړو او نښتو له کبله ۲۴۸ ملکیان وژل شوي



۵ مخ

## سپیدار: شورای عالی دولت تا اخیر هفته جاری به‌کار آغاز می کند



شورای عالی مصالحهٔ ملی می‌گوید که قرار است شورای عالی دولت تا اخیر همین هفته به‌کار آغاز کند و دربارهٔ مسایل امنیتی و روابط سیاسی افغانستان با کشورها تصمیم خواهد گرفت.

عنایت الله بابر فرهمند، معاون شورای عالی مصالحهٔ ملی می‌گوید که رأی‌زنی‌های حکومت با چهره‌های سیاسی انجام شده‌اند و موضع‌گیری‌های شماری از مقام‌ها دربارهٔ چگونگی صلاحیت‌های شورای عالی دولت برخاسته از خلای معلوماتی است.

اشارهٔ فرهمند به اظهارات اخیر حمدالله محب، مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهور است که گفت شورای عالی دولت تنها در امور صلح فعالیت خواهد داشت. معاون شورای عالی مصالحه ملی تأکید می‌ورزد که شورای عالی دولت نه تنها در مورد صلح بل دربارهٔ مسایل امنیتی و سیاست‌های خارجی افغانستان نیز تصمیم‌گیر خواهد بود: «یک سلسله موضع‌گیری‌های که توسط مقامات صورت می‌گیرد و دیده می‌شود که از خلای معلومات است؛ به‌خاطری‌که شورای عالی دولت متشکل از رهبران تاثیرگذار سیاسی افغانستان است و لایحه وظایف آن، بیشتر تمام مسایل ملی صلح و جنگ تعیینات مقامات عالی رتبه و غیره موضوعات ملی و مردمی می‌باشد.»

دارلانشای شورای عالی دولت نیز می‌گوید که این شورا صلاحیت تصمیم‌گیری دربارهٔ مسایل ملی را خواهد داشت.

گلبدین حکمتیار، رهبر حزب اسلامی که قرار بود عضو شورای عالی دولت باشد، می‌گوید که به‌علت افزایش شمار اعضای این شورا از هشت تن و چگونگی صلاحیت‌های آن، نمی‌خواهد عضو این شورا باشد.

فروش زمین

یک قطعه زمین به مساحت {9080 متر مربع} واقع قرغه {ناحیه 5 ، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.

+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802



سرلیکنه

## په ګرمه جګړه کې د سولې خبرو د بیا پیل هڅې

د افغانستان د حکومت مذاکراتي پلاوی په کابل کې له لیدنو کتنو او مشورو وروسته دوحې ته ځي او هلته به له طالبانو سره بیا خبرې پیلوي. د دې پلاوي غړو د مصالحې د عالي شورا له مشر ډاکټر عبدالله سره هم کتلي او نوموړی وایي چې پلاوی به دوحې ته ورشي او ورسره به د سولې په تپه ولاړې خبرې بیا پیل شي. تر دې وړاندې طالبانو هم ویلي وو چې ژر به د سولې خبرې بیا پیل شي.

له ډېر وخت راهیسې نه په دوحه او نه هم په کوم بل ځای کې د سولې خبرې شته، د دواړو اړخونو لخوا نه یوازې د جګړې خبرې کېږي، بلکې په ټول هېواد کې عملي جګړې هم زور اخیستی دی. له دواړو اړخونو څخه معلومات دا دي چې سختې جګړې ته تیاری نیسي. د افغانستان په جګړه کې ځینې ښکېل سیمه‌ییز هېوادونه هم په افغانستان کې ځینې داسې کارونه کوي، چې د جګړې د نوي پړاو لپاره د پیل تیاری ګڼل کېدلی شي. طالبانو پرله‌پسې هڅه کړې چې په ټول هېواد کې خپله جغرافیه پراخه کړي، د ولسوالیو او سیمو د لاندې کولو لپاره یې جګړې کړې دي، چې په ځینو سیمو کې یې پرمختګ هم کړی دی. حکومت هم د طالبانو پر ضد نه یوازې عملیات کړې، بلکې د هغوی پر ضد سخته او تونده ژبه هم کاروي. له دواړو اړخونو سختو جګړو پراخ ځاني او مالي زیانونه هم اړولي دي. حکومت په وروستیو کې تر زرو د ډېرو طالبانو د وژلو ادعا کړې او طالبانو هم د ډېرو حکومتي ځواکونو د وژلو او دوی ته د تسلیمۍ ادعاوې کړې دي. ملکي وګړو ته هم سختې مرګ ژوبلې اوښتې دي. له بله اړخه په ځینو سیمو کې د ملېشو د جوړېدو کار هم روان دی او مرموزې وژنې هم پیل شوې دي، چې ډېری یې په هغو سیمو کې دي چې هلته د ملېشو د جوړولو کار روان دی. له دې امله نه یوازې اوس تمرکز پر جګړه دی، بلکې تیاری هم جګړې ته روان دی.

له هره اړخه د جګړې په دې ګرم حالت کې سولې ته هیلې ډېرې کمې دي، خو بیا هم خلک غواړي چې د سولې خبرې بیا پیل شي او مثبتې پایلې ولري. اوس چې په دوحه کې د سولې د خبرو د بیا پیل په اړه خبرې کېږي، خلک تمه لري چې دا ځل دا خبرې جدي او متفاوتې وي. ښکېلو اړخونو باید درک کړې وي چې سوله نه یوازې د ولس اساسي غوښتنه ده، بلکې دوی په جګړه نه شي کولی چې خپلو موخو ته ورسېږي. له همدې امله دا ځل خبرې باید د تېر په شان یوازې د وخت د ضایع کولو لپاره نه وي، بلکې دا خبرې باید جدي، عملي او مثبتې وي. دواړه اړخونه باید ومني چې له قربانۍ او انعطاف پرته د سولې په خبرو کې پرمختګ نه کېږي او دواړه باید همدا کار وکړي. د دې تر څنګ په وروستیو بدلونو کې باید دواړو اړخونو درک کړې وي، چې که سوله ونه کړي، یوې داسې کورنۍ جګړې ته روان دي، چې نه یوازې پای به ونه لري، بلکې دوی به د خلکو او تاریخ پر وړاندې منفور او ذلیل شي. له همدې امله باید پر سوله تمرکز وکړي او یوې پایلې ته ورسېږي.

# رنگمالی پایگاه های سابقه در سرحد

عبدالروف لیوال

رجوع احتمالی دوباره ی امریکا به پایگاه های سابقه اش (شمسی وبده بیر) در پاکستان، جهت کنترول و سرکوب افغانستان.

بابرداشت از لکچر (فرصت تغییربازی) رئیس جمهور غنی در پوهنتون کابل اقدامات ذیل از جانب امریکا به اساس دوکتورین جدیدش مدیریت تجاری جنگ «هزینه‌ی کم و عملیات موثرنامرءی»، روی دست گرفته خواهد شد :

کشتی بزرگ عملیاتی S.S Ronald Rigan درخلیج فارس جهت کنترول ونظارت بر وقایع احتمالی کابل درخلیج فارس مشرف به سرحد آبی پاکستان مستقر میشود.

جهت حمایت از کابل نسبت به ساله‌ای قبل درکمک های حمایوی غیر نظامی دربودیجه‌ی پیشنهادی بایدن سه برابر افزایش بعمل میآید. شامل بالابردن درهزینه‌ی (USID) در افغانستان.

مستقر نمودن حدودششصدوپنجاه تن سرباز بحری تحت عنوان حفاظت از سفارت امریکا و موسسات دیپلوماتیک کشورهای اقمار امریکا مقیم کابل (زیرا طالبان به دیپلومات‌های آستralia اخطار دادند درساحه‌ی Special Green zone طولاً از برج ساعت پُل محمود خان الی چهارراهی صحت عامه و به امتداد سرک میدان هوایی بین المللی کابل عرضاً از سرک دهم وزیر محمد اکبرخان الی خاد سابقه‌ی شش درک، مسلخ و فابریکه‌ی بوت آهو سابقه، هوتل پنج ستاره ی امریکایی و مکرویان اراکین برجسته دولتی و هوتل آریانای سابقه محل فرماندهی این پادگان خواهد بود.

استقرار قوی اعضاء و اجنتهای محلی سیا بصورت اشد مخفی در همه جاهای مشکوک درتبانی با قطعات صفری و نیروهای کامباین جهت عملیات نامرءی.

تشدید فعالیت های سایبری، استخباراتی و ناسایی برای کنترول وسرکوب همه ولایات- کابل استثنا است و نباید درین عملیات سرکوبی صدمه ببیند و کبریت زدن به جنگ در متباقی مناطق کشور بین گروه های متخاصم (دولت و طالبان و سایرگروه ها- دوستمی- علیپوری- قیصاری وغیره) هدف: مصرف اسلحه و تضعیف هرچه بیشتر شان میباشد.

عقب نشینی عمدی وتکتیکی نیروهای دولتی در ولسوالی‌ها، جزء آنست.

احتمال جاگزینی نامرءی قوای هوایی خاص امریکا درپایگاه های (بده بیروشمسی) در پاکستان که ذیلاًبه پیشنه (بگروند) این پایگاه ها بطور خلص پرداخته میشود.

در سال ۱۹۴۹ شوروی لیاقت علی صدراعظم پاکستان را رسماً به روسیه دعوت نمود که این دعوت به مخالفت امریکا انجامید، از طرفی هم سخنان لیاقت علی خان در مورد فلسطین هم به مزاج امریکا خوش نخورد، از همین سبب لیاقت درماه اکتوبر در جلسه‌ی راولپندی بقتل رسید.

بعد این رُخداد، شوروی توجه خودرا بطرف هند معطوف ساخته و پیمان فروش اسلحه را با هند به امضا رسانید.

درسال ۱۹۵۵ قوای هوایی امریکا جهت استماع پیغام‌های مخابروی روسها سروی ای رادرمنطقه انجام دادند، درنتیجه (بده بیر) را که در ۲۴ کیلومتری جنوب پیشاور یک قریه‌ی خورد بود، تعیین کردند.

سرقمندان قوای مسلح پاکستان صدرمحمد ایوب خان برای مدت ده سال این محل رابه امریکا سپُرد، درمقابل از امریکا توقع داشت تا در مسئله‌ی کشمیر پاکستان را یاری رساند، امریکا دربده بیربه اعماریک پایگاه جاسوسی شروع نمود و این پروژه بنام (sand bag) مسمی شد، که کار آن در سال ۱۹۵۹ تکمیل شد. همین محله Peshawor Air station که طور اختصار برایش (پاس) گفته میشود مرکز جاسوسی بود .

حدود هزارتن امریکایی که درین پایگاه حضور داشتند نام خودرا Peshawor Bandists یعنی (داکوهای پیشاور) گذاشتند، یک ویب سایت وبه نام (میستیک لمپ) یک روزنامه هم داشتند، آخرین مهمانی شان دریک جشن یکجایی در سال ۲۰۱۷ برپا شد که همه اعضای باند درآن اشتراک نموده بودند.

قیام مسلحانه‌ی سربازان افغان و شوروی درکمپ بده بیر

در ۲۷ ماه اپریل سال ۱۹۸۵ سربازان اسیر افغانی و شوروی از غفلت محافظین استفاده نموده، خودرا مسلح و زد خورد درقلعه آغاز شد، نزدیک ترین کمپ مجاهدین افغانی مربوط جمعیت اسلامی که درپهلوی پایگاه قرارداشت دریک قلعه‌ی بنام (سره شگه) بود، عساکر اسیر افغان و شوروی کمپ رادراختیار خود گرفتند و درنتیجه‌ی زد وخورد ۱۱۰ مجاهد افغان ۹۰ عضو آی اس آی ٦ تن افسر پاکستانی، ٦ ترینرخارجی راکشتند، ۲ افسر روسی هم موفق به فرار شدند. استاد ربانی که به دستور آی اس آی پاکستان جهت آوردن فشار بالای اُسرای افغانی آمد، بادیگاردش جراحت برداشت و خود استاد فرار نمود و بالاخره ۴۰ تن اعضای خاد وتمام اسیران بخاطریکه آی اس آی از نزدشان رازهای دولت افغانستان را نه گیرند باانفجار مهیب با آتش زدن به انبار اسحله خود را ازبین بردند وهمه کشته شدند.

دربده بیرحالا دانشکده مربوط قوای هوایی پاکستان فعال است.

سال ۲۰۰۱ ترسایی جنرال پرویز مشرف پنج پایگاه هوایی کوچک را در اختیار امریکا و همپیمانان ناتو اش گذاشت، این پایگاه هاشامل جیکب/ یعقوب اباد در ایالت سن، شمسی، دالبندین، پاسنی و سمنگلی در ایالت بلوچستان واقع گردیده که درحقیقت ازنگاه موقعیت استراتژیک نظامی با پایگاه های بزرگ حاشیه خلیج فارس به ویژه بحرین یک تسلسل زنجیری داشتندودارد.

پایگاه شمسی در کویته

پایگاه شمسی در فاصله ۳۰۰ کیلومتری جنوب شرق شهر کویته موقیعت دارد.

پایگاه شمسی از سال ۱۹۹۲ در اجاره امارات متحده عربی قرارداشت که خانواده شاهی امارات دررفت و آمد غرض تفریح به ویژه شکار از آن میدان هوایی استفاده میکردند اعمار، تجهیز وسایل تخنیکی میدان توسط امارات صورت گرفت، امارات اسم این میدان هوایی کوچک با یک خط پرواز را از بندری به شمسی مبدل کرد.

پایگاه شمسی در اختیار سازمان سیا قرار گرفت و یک بخش نیروهای هوایی امریکا نیز در آنجا جابجا گردیدند مرکز عملیاتی(درون) یا هواپیماهای بدون سرنشین که عملیات اکتشافی و حملات موشکی را در مناطق مرزی ایالات بلوچستان و خیبرپختونخوا اجرا میکردند، قرارداشت.

سال ۲۰۱۱ بعد از حمله اشتباهی (درون) امریکا بالای مرزبانان پاکستانی که باعث کشته شدن بیست و چهار مرزبان پاکستانی شد، بعد از اعتراضات مردمی دولت پاکستان خواستار تخلیه میدان شمسی از نیروهای آمریکایی گردید، پایگاه تخلیه شد و دوباره تسلیم اردوی پاکستان و مورد استفاده‌ی امارات قرار گرفت. قابل یاداوری است که امریکا اجازه استفاده از تمامی میدان های هوایی، بنادر بحری و خشکه پاکستان داشت و دارد، اما پایگاه های هوایی که دربالا نام گرفته شد کاملاً در اختیار امریکا قرارداشت.

روزنامهء نیویارک تایمز به این نکته اشاره می کند که امریکا از برخی مراکز در پاکستان جهت حملات هواپیماهای بی پیلوت استفاده خواهد کرد .

دگروال سعد یک کارشناس امورنظامی پاکستان در صحبت با رادیو آزادی گفت که: این حرکت پاکستان روابط آن کشور را با ایالات متحدهء امریکا بیشتر با تنش مواجه ساخته، امکان دارد فعالیت شبکهء حقانی در این منطقه افزایش یابد.

به عقیدهء دگروال سعد استفاده‌ی نامرءی امریکا از پایگاه شمسی در بلوچستان می تواند باعث تحریک شبکهء تروریستی القاعده و حقانی شود.

وی اظهار میدارد: «به القاعده و شاخه های آن خیلی مفید تمام خواهد شد، به نظر من در حال حاضر امریکا قابلیت آن را ندارد که در بلوچستان عملیات کند. زیرا از افغانستان عساکر امریکایی در حال بیرون شدن هستند. در آینده تعداد آن ها کم می شود، اگر امریکا این قابلیت را پیدا کرده و درین جا عملیات کند، نتایج آن برای امریکا خیلی خطرناک خواهد بود. پاکستان حیثیت یک دشمن را خواهد گرفت.»

به نظر این کارشناس امورنظامی، خراب شدن روابط پاکستان با امریکا به نفع حکومت افغانستان نبوده، می تواند در پروسهء صلح افغانستان موانع ایجاد کند.

تحلیلگر افغانی آقای اتمر هم در ارتباط به موضوع اذعان میدارد: «در گذشته عملیات طیاره های بی پیلوت خیلی موثر بود. در حال حاضر پاکستان می خواهد بالای امریکا فشار آورده، تا امتیازاتی دیگری را به دست آورد.»

## هوايي چلند اداره: پاکستان په یو اړخیز ډول د افغان لوري ۸۰ سلنه الوتنې کمې کړې

پاکستان په ښکاره د کرونا وبا د خپرېدو د مخنیوي په پلمه له کابل-اسلام‌اباد ته د تلونکو الوتکو ۸۰ سلنه الوتنې راکمې کړې دي، خو د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداره وایي، دا پرېکړه په یو اړخیز ډول شوې او د هغې هوکړې خلاف ده چې د دواړو هېوادونو ترمنځ لاسلیک شوې.

د دې ادارې ویاند محمد نعیم صالحي وایي، د دې ستونزې د حل په موخه روانه اونۍ له پاکستاني چارواکو سره خبرې کېږي. دی زیاتوي، که پاکستان په خپلې یو اړخیزې پرېکړې ټینګار وکړي، افغانستان به هم ورته عمل وکړي.

صالحي زیاتوي: «د ملکي هوایي چلند اداره په روانه اونۍ کې پر دې موضوع له پاکستاني چارواکو سره بحث کوي. که ستونزه حل نه‌شي او موږ ته مثبت ځواب رانه‌کړل شي، افغان دولت به هم ورته عمل وکړي، په دې معنی چې د پي‌ای‌اې الوتنې به هم کمې شي.»




د یادونې ده چې پاکستان له نږدې دوو اونیو راهیسې له کابل څخه اسلام‌اباد ته د تلونکو الوتکو د الوتنو شمېر په اونۍ کې له ۵ څخه یوې ته راکم کړی، خو پاکستانۍ الوتکې بیا پوره ۵ الوتنې کوي.

د کابل او اسلام‌اباد ترمنځ د یوې هوکړې پر بنسټ، له افغانستانه یوازې کام‌ایر هوايي شرکت کولای شي پاکستان ته په اونۍ کې ۵ الوتنې وکړي او له پاکستان څخه د دغه هېواد د پي‌ای‌اې شرکت هم په اونۍ کې کابل ته د پنځو الوتنو اجازه لري، خو د افغانستان د ملکي هوایي چلند ادارې د معلوماتو له مخې، اسلام‌اباد بې له کومې مشورې او د شوې هوکړې خلاف، د افغانستان د کام‌ایر شرکت څلور الوتنې له دې کبله چې ګنې د کرونا وبا د خپرېدو مخنیوی کوي، لغوه کړې دي.

بلخوا د کام‌ایر هوايي شرکت د سوداګرۍ رییس سلیمان عمر وایي، د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداره باید اسلام‌اباد ته د دې شرکت د الوتنو د بیا پیل زمینه برابره کړي. عمر وایي: «اوس باید د افغان شرکتونو له حقونو ملاتړ او ننګه وشي. د کرونا ویروس د خپرېدو له کبله د هوایي شرکتونو اقتصادي وضعیت ښه نه‌دی. باید همکاري او هڅه وشي چې موږ بیا پر دې مسیر خپلې الوتنې پیل کړو.»

افغان چارواکو تر دې وړاندې هم پاکستان پر دې تورن کړی، چې نه یوازې په سیاسي، بلکې له دغه هېواد سره په سوداګریزه برخه کې هم په خپلو ژمنو وفا نه‌کوي او تل یې په یو اړخیز ډول او یوازې د خپلو ګټو پر بنسټ، پرېکړې کړې.

# د لوگر برید؛ میاشت وروسته د قربانیانو کورنۍ په څه وضعیت کې دي؟

لیکنه: بي بي سي- پښتو

میاشت وړاندې د لوگر مرکز پل علم ښار کې خونړي موټربم برید د ازرې ولسوالۍ د یوه کلي ۲۳ ځوانان ووژل او د پراخو ویجاړیو تر څنگ یې له ۱۱۰ ډېر کسان ټپیان کړل.
په ټپیانو کې شپږ کسان د اکبرخېلو او پاتې نور یې د پُل علم ځایي اوسېدونکي وو. بي بي سي له دې بریده میاشت وروسته د یو شمېر قربانیانو له کورنیو سره خبرې کړې دي او د دوی وضعیت یې پوښتلی.
له پېښې یوه میاشت وروسته، د اکبرخېلو د قربانیانو خپل خپلوان په پُل علم کې هغه ځای ته ورټول شوي وو چې خواخوږي یې پکې وژل شوي وو.
هغه ځای اوس هوار میدان ته ورته ښکاري. هلته ځینې مړي تر کنډوالو لاندې بند پاتې وو او د را ایستلو لپاره یې باید ټولې خاورې لېرې کړل شوې وای.
هغوی تر کنډوالو لاندې د وژل شویو محصلانو او د هغو زده کوونکو کتابونه، اسناد او کتابچې راټولوي چې د کانکور ازموینې ته د چمتووالي لپاره یې له ځان سره په خونو کې ساتل.
د چاودنې پر ورځ، سهار مهال نږدې ۴۰ نور زده‌کوونکي له هغه مېلمستونه چې د څو شپو تېرولو لپاره د کانکور په ازموینه کې د گډون په موخه له خپل کلي ورغلي وو، بېرته ازرې ته ولاړل.
ازره د لوگر لېرې پرته او غرنۍ ولسوالي ده او د ننگرهار له حصارک سره پوله لري، نو له همدې وجې د سیمې یو اوسېدونکي حاجي رییس خان په وینا، زده کوونکي په داړسن موټرو کې له مېلمستونه ولاړل.
حاجي رییس خان چې ورور او وراره یې په دې پېښه وژل شوي او زوی یې ټپي دی، وایي: «که دا زده‌کوونکي د برید پرمهال همدلته پاتې وای، ښایي یو یې هم ژوندی نه وای پاتې».
رییس خان ختګر دی، په مخ کې یې د ژور درد نښې له ورایه ښکاري. یو ورور یې څو کاله وړاندې چې د ولایتي شورا غړی هم و، د موټر په ټکر کې مړ شوی دی. نوموړی وایي: «یو ځل مې د یوه ورور یتیمان راته پاتې شول، اوس مې د بل ورور او وراره کونډې او اولادونه را پاتې شول. اخر څه وکړم؟ څوک مې غږ اوري؟»
میاشت وروسته په کنډوالو کې د ورور تذکره
د رییس خان زوی احمد ولي چې په لوگر پوهنتون کې استاد و، د ټپیانو په ډله کې و. رییس خان چې تازه له ازرې پُل علم ښار ته تللی، په موټر بم کې کنډواله شوي خونې یوه په بل پسې لټوي چې که د ورور او وراره کتابونه او اسناد د وروستۍ نښې په ډول پیدا کړي. بالاخره یې د امبار کاغذونو په منځ کې د ورور اسناد ومونډل. په هیجان یې وویل: «دغه دي، دغه دي...زما د ورور تذکره، تذکره پیدا شوه».
مني په خپل پټي
د شاه ولي بیا دوه زلمي زامن چې همدا څه موده وړاندې یې ودونه کړي وو، په دې پېښه کې وژل شوې دي. یو یې محصل و او دویم یې د کانکور لپاره ازموینه ورکړې وه. شا ه ولي د خپل زوی نور علي د هیلو په اړه وایي: «چې روانېده، راته یې ویل د زراعت پوهنځی انتخابوم، ما ورته ویل چې دا پوهنځی ولې انتخابوې؟ ویل یې اکا زراعت ځکه وایم چې منې په خپل پټي کې وکرو او ته به یې تل خورې».
دا یوازې نور علي نه و چې راتلونکې ته یې دا ډول ارمانونه او هیلې درلودې، بلکې هر وژل شوي دا ډول ارمانونه گور ته یووړل.
د لوگر په برید کې د وژل شویو کورنیو غړي له دولت او نړیوالو بنسټونو د عدالت غوښتنه کوي. رییس خان وایي: «دلته ټول قربانیان شاگردان او محصلان وو، دوی د کانکور لپاره راغلي وو. د نظامي کسانو ځایونه مالوم دي، دلته ظلم شوی، موږ عدالت غواړو».
«په کلي کې مو زلمی نه دی پاتې»
د عبدالمطلب ۱۹ کلن زوی فضل الرحمن چې د کانکور ازموینې ته تللی و، د وژل شویو په ډله کې و. نوموړي چې سترگې یې له اوښکو ډکې او غږ یې ژړغونی و، بي بي سي ته وویل: «ټوله دره ویر په سر اخیستې، د چا زوی، د چا وراره، د چا تره زوی او د چا خواخوږی وژل شوی. کلي کې مو زلمی نه دی پاتې».
د ملگرو ملتونو شمېرې ښیي د روان میلادي کال یوازې په لومړیو دریو میاشتو کې د ولسي خلکو مرگ ژوبله د تېر کال د همدې مودې پرتله نږدې ۳۰ سلنه لوړه شوې ده.
په ولسي مرگ ژوبله کې یوه لویه برخه ښځې او ماشومان دي. اندېښنه دا ده چې ښایي اصلي شمېرې له دې هم لوړې وي؛ ځکه د لېرو پرتو سیمو پېښې تر ډېره په کره ډول نه ثبتېږي او یا هم تر رسنیو نه رسېږي.
د پُل علم موټر بم برید د روژه ماتي پرمهال یې دا ختر په شپو کې یې لسگونه کورنۍ ویرجنې کړې. حکومت یې پړه پر طالبانو ور اچوي، خو طالبانو لا هم په دې اړه رسماً څه نه دي ویلي.
که برید د هر چا کار وي، خو د ازرې نهیلي او بې وسه کورنۍ د خپل درد کرارولو لپاره له دعا او ښېرا پرته د بل هېڅ شي وس نه لري او اوس چې له دې پېښې میاشت تېرېږي، د ازره والو کړاو د کمېدو پر ځای لا په ډېرېدو دی او پر دې نه پوهېږي چې خپلوان یې په کومه گناه ترې واخیستل شول.

# د افغان سولې او جگړې سناریو؛

## ولسمشر غني: روان وضعیت ته په کتو لومړی باید له پاکستان او بیا له طالبانو سره سوله وشي



په افغان سولې او جگړې کې د پاکستان د دوه گوني چلند په تړاو د نیوکو او څرگندونو په دوام، ولسمشر غني وایي چې د افغانستان اوسني وضعیت ته په کتو لومړی باید له پاکستان او بیا له طالبانو سره سوله وشي.
نوموړي د لوبې بدلون تر عنوان لاندې یوه لکچر کې د خبرو پر مهال ویلي چې افغان حکومت سولې ته ژمن دی، خو د پاکستان په خبرو او عمل کې توپیر دی. د ده په وینا، د افغانستان سوله د پاکستان په گټه ده او که دغه هېواد خپلې خبرې او عمل یو شان نه کړي، نو افغان حکومت اړ دی چې لومړی له دوی سره د سولې په لټه کې شي او بیا له طالبانو سره سوله وکړي. هغه ټینگار کړی چې پاکستان لا هم په سیمه کې د ترهگرو ډلو ملاتړی دی او پر دې واقعیت سترگې نه شي پټېدلی. ولسمشر غني همدا راز وویل چې طالبان باید له افغان حکومت سره یو ځای شي او ټینگار یې وکړ چې دغه ډله د زور او وسلو له لارې بریا ته نه شي رسېدلی او افغان ځواکونو په وروستیو کې په مخامخ جگړو کې دغه ډله په شا تمبولې ده.
په افغان مسئله کې د پاکستان د دوه گوني چلند له کبله دغه هېواد پر افغان چارواکو او نړیوالو سربېره، په کور دننه هم د سیاستوالو له فشار سره مخ دی.
د پاکستان د لومړي وزیر عمران خان په مشرۍ د تحریک انصاف حکومت پر ضد جوړ شوي د مخالفو گوندونو غورځنگ (پي ډي ایم) ویلي چې د پاکستان حکومت باید د افغانستان په اړه سپیناوی ورکړي. د دغه غورځنگ مشر مولانا فضل الرحمان د نورو سیاسي گوندونو له مشرانو سره یوې گډې خبري ناستې ته ویلي، د سیمې حالات اندېښمن دي، پي ډي ایم له پاکستاني حکومت څخه غواړي چې د پارلمان یوه گډه غونډه راوبولي او په علني ډول دې د خپل دفاعي حالت، بهرنۍ پالیسي او له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته په پاکستان کې د امریکایي اډو د جوړېدو په اړه د خپرو شویو اوازو په اړه خلکو ته سپیناوی ورکړي. دوی دغه راز پر حکومت د تندو نیوکو ترڅنگ په ټول پاکستان کې د پراخو حکومت ضد اعتراضونو اعلان هم کړی دی.
په ورته مهال د پښتون ژغورنې غوځنگ هم د افغان سولې په تړاو وروستیو څرگندونو او اقداماتو ته غبرگون ښودلی دی. د دغه غورځنگ مشر منظور پښتین وایي چې پي ټي ایم د افغان سولې لپاره په نړیواله کچه غږ پورته کړی او د دوی د مبارزې تر ټولو ستره موخه په لر او بر افغان وطن کې امن او سوله ده. منظور پښتین په خپلو تازه څرگندونو کې زیاته کړې، پرون چې د کرښې دې خواته د کومو سیمو خلک د افغان جگړې لپاره کارېدل، نن په همدې سیمو کې د افغان وطن د امن لپاره سیمنارونه کېږي، د سولې خبرې کېږي او خلکو ته شعور او فکر ورکول کېږي.
پښتین د خپلو خبرو پر دوام ویلي، په افغانستان کې اکثریت افغانان د دوی داوطلب ملاتړي دي، ځکه دوی د هغې جگړې خلاف راوتلي چې د کرښې هغې غاړې ته د پښتنو په گډون ټول قومونه ترې اغېزمن دي. د پي ټي ایم مشر دغه راز څرگنده کړې چې دوی اوس په افغانستان کې منظم جوړښت نه لري، خو که په راتلونکي کې دغه جوړښت را منځته کېږي، نو په داسې یو نوم او شکل به وي چې هلته د افغانانو د وېشلو سبب نشي؛ ځکه یو له بل بېلوالی او وېش د افغانانو په زیان دی.
د افغان سولې په تړاو د پاکستان د دوه گوني چلند په تړاو د افغان چارواکو او نړیوالو نیوکې نوې خبره نه ده، بلکې تر دې وړاندې هم دغه هېواد د افغانستان په کورنیو چارو کې پر لاسوهنې او له ترهگرو ډلو پر ملاتړ تورن شوی دی.

# په امریکا کې د تاوتریخوالي په دوام؛

## په فلوریدا ایالت کې د وسله وال برید له کبله ۲۲ کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې

د امریکا د فلوریدا ایالت په میامي ښار کې د سندرو له یوه پروگرام څخه بهر په وسله وال برید کې دوه تنه وژل شوي او ۲۰ نور ژوبل دي.
د یاد ښار پولیس وایي، چې درې تنه وسله وال په یوه موټر کې راغلي وو او له موټره له راښکته کېدو وروسته یې په راټولو شویو خلکو ډزې وکړې او بېرته په موټر کې وتښتېدل.
چارواکو ویلي چې دغه پېښه د میامي «گارډن» تجارتي ودانۍ ته نږدې په یوې بلیارد خانې کې شوې، خو د دغه برید انگېزه تر اوسه نه ده په ډاگه شوې.
پولیس وایي چې د ځینو ټپیانو حالت د اندېښنې وړ دی او ښایي د مړو شمېر له دې هم پورته شي. د ښار د پولیسو مشر الفرېډو رامیریز په ټویټر کې دغه وسله وال برید غندلی او د عدالت پلي کولو ژمنه یې کړې ده.
د یادونې ده چې په امریکا کې دا ډول وسله وال بریدونه وخت نا وخته کېږي او تازه پېښې یې د امریکا په انډیاناپولیس، کالیفورنیا او میامي کې وې چې لسگونو کسانو ته پکې مرگ ژوبله اوښتې.
بلخوا د امریکا ولسمشر بایډن څه موده مخکې په خپلو خبرو کې دا ډول وسله وال بریدونه ساري او نړیوال شرم بللی دی. نوموړي ټینگار کړی چې دا ډول بریدونه امریکایان په خپلو کې سره نه شي بېلولی او د دغه هېواد خلک به د دا ډول پېښو پر وړاندې خپلې مبارزې ته دوام ورکړي. که څه هم په امریکا کې ډېری وختونه دغه ډول پېښې د تبعیضي چلند له کبله رامنځته کېږي، خو په میامي ایالت کې د وروستۍ پېښې د علت په اړه څه نه دي ویل شوي. په امریکا کې دغه ډول بریدونه او پېښې په میناپولیس ایالت کې د یوه سپین پوستي پولیس له خوا د تورپوستي جورج فلوېډ تر وژلو وروسته زیات شوي دي.
بلخوا د امریکا د وسله وال تاوتریخوالي د ارشیف د معلوماتو په اساس تېرکال په دغه هېواد کې د ډزو او وسله والو بریدونو سره په تړلو پېښو کې ۴۳۰۰۰ کسان وژل شوي دي، چې په دې شمېرو کې ځان وژنې هم شاملې دي.




## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلیک RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### اوومه برخه
### راتلونکې ته نظر




راځئ د بل انحرافي شي په اړه فکر مه کوئ، بلکې پر داسې لارې غور وکړئ، چې حرکت ته برابره وي.
د مثال په ډول، په داسې حالاتو کې چا دا وړاندیز کولی شو، چې که کشمیر او ترهګري یوه جدي موضوع ده، نو په کشمیر کې ولې یوه ګډه پروژه پیل نشي، چې کشمیریان او را لاندې مېشت پاکستانیان یې له ګټو برخمن شي.
دې کار به د کړکېچ تاو یو څه راکم کړی وای او خبرو اترو ته به یې یوه بله زمینه برابره کړې وای. خوښه مو نه ده، چې دغه ټیم ته چې د پردې تر شا د مسایلو د حل او د بن بست د مخنیوي هڅه کوي، د اور وژونکو یا نخبه ګانو نوم ورکړو؟ زه له چوکاټ څخه بهر د حل پر ځای له چوکاټ څخه د بهر تنظیماتو پلوی یم. که څه هم د هغوی شخړې ډېرې جدي، خونړۍ او له پېړیو پېړیو دوام کوي، خو په قبایلي ټولنه کې د مسایلو حللار همدا ده. د دوه درېیو کسانو په همکارۍ پخلاینه هغه مهال شوني ده، چې دواړو خواوو ته د باور وړ وي، دواړو خواوو ته لاسرسی ولري او پرېنږدي، چې مسایل له کنټرول څخه ووځي.
یوه ښه بېلګه یې د سعودي عربستان په مشرۍ یمن ته د رسېدنې هڅې دي، که څه هم زه یې ډېر پلوی نه یم. دغه راز د سپټمبر له یوولسمې وروسته په افغانستان او منځني ختیځ کې په ترهګرۍ تمرکز. شهزاده عبدالله* چې وروسته پاچا شو د سپټمبر یوولسمې له بریدونو څلور اونۍ وروسته د ځینو عواملو په وړاندې کولو سره وویل، چې موږ باید د اسرائیلو په رسمیت پېژندلو ته چمتو شو. دا کومه نوې خبره نه وه، خو د باور نه کېدونکې موضوع په توګه پرې په میاشتو، میاشتو خلکو بحثونه او څرګندونې کولې. هغه دا موضوع په مناسب وخت کې مطرح کړې وه، چې ښه اغېزه یې هم درلوده. د هغه په شاهي حکومت فشارونه کم شول، خو برعکس په اسرائیلو او امریکا فشارونه زیات شول.
دولت: نو تاسې ولې زما وړاندیز نه منئ او اجیت دوال لاهور ته نه دربولئ؟
دوراني: زه دا حرکت د اجیت لپاره نه ترسره کوم. خوشاله به شم، که بل څوک دا کار وکړي، خو اوس توپ ستاسې په میدان کې دی.
دولت: دا داسې ده، چې موږ ووایو هاکي کوو، خو کرکټ نه کوو. او موږ وار له مخې هاکي کړې ده. خو اوس ټوله نړۍ د ترهګرو او امنیتي ګواښونو باوجود پاکستان سره کرکټ لوبه کوي او موږ بیا هم سرزوري کوو او وایو د ټولو له منځه موږ ولې پاکستان سره کرکټ وکړو؟
دا بلکل همداسې ده، لکه جنرال صېب چې ووایو، موږ ولې اجیت دوال ته بلنه ورکړو؟ دا دواړه موضوعاتو کټ مټ ورته دي. یعنې موږ ولې داسې یا هاغسې وکړو؟
دوراني: دا د یوه شخص کیسه ده، خو زه چې د کوم دایمي جوړښت خبره کوم، هېڅ نوی مشر به یې په راتګ سره ونه ځنډوي. دوی ښایي اشخاص بدل کړي، خو دغه جوړښت به له منځه یو نه سي. دا چوکاټ یا سیستم به سازماني شوی وي.
دولت: نو تاسې به د «ساتي لمبه» په څېر یو کس وړاندیز کړئ؟
دوراني: تر هغو چې ساتي لمبه نوښتګر او جوړوونکی وي، باید خدمت کې پاتې شي. کله چې یې نظریې ختمې شي او عمر یې پر اویا کلنۍ واوړي، بل شخص رامخ ته کړئ. هغه به د تل لپاره نه وي، خو دغه جوړښت به دایمي وي. ټول بدلون په یوه اقدام کې نه رامنځته کېږي. موږ خپل حکومت ته همدا وړاندیز کړی دی، د هند په اړه نه، بلکې د جوړښت «استبلشمنټ» په اړه.
ادېتا سېنها: تا له عامه ښار څخه د پټو موضوعاتو یادونه وکړ، خو په هند کې د پالیسیو د ملاتړ لپاره عامه ملاتړ ته اړتیا ده. که ته یو ناڅاپه ورته یو شی مخ ته کېدې، آیا دا به ګټور تمام شي؟
دولت: که باور پرې لرئ نو حتما به ګټور ثابت شي. کله چې واجپای په بس کې لاهور ته تلو، نو دا موضوع یې عامه کړې نه وه. هغه سمدستي پرېکړه وکړه او د ملکها سېنګ، کپل دیو او دیو انند په څېر کسان یې هم له ځان سره بوتلل. دا داسې و، لکه هر پنجابی چې یې له ځان سره لاهور ته بیولی وي.
دوراني: تاسې لومړی یوې پایلې ته رسېږئ او ورته مقررات وضع کوئ، وروسته یې په اړه نظریات غواړئ. ددې ګروپ په اړه هم باید همدا تګلاره تعقیب شي. که له نهایي کېدو وړاندې یې عام او رسنیز کړئ، نو څرګنده ده، چې ډېر خلک به وایي فلانی او فلانی بدل کړئ او په دې توګه به ټوله پروسه له سره شي.
سېنها: له دې داسې ښکاري ،چې اوسنی وضعیت به تر راتلونکو ۵۰ ـ ۱۰۰ کلونو پورې نور هم دوام وکړي.
دولت: زه د اوسني وضعیت د دوام پلوی نه یم. زه دا وایم، چې یوه خوا باید اوس لاس په کار شي.
دوراني: له اوسني وضعیت څخه وتل اسانه نه دي. احتمالاً له موږ هر یو اوس دا وړاندیز کوو، چې د تیرې ورځې وضعیت باید د سبا ورځې وضعیت نه وي او دا ښه خبره ده. **دوام لري...**

# بنز

حشمت الله نوري

مرسدس د یوې اسپانوۍ نجلۍ نوم دی، نو هسپانوي نوم ورته ویلی شو، مانا یې وقار او ښکلا ده. دا تلپاتې نښان په ۱۹۰۳ کال کې طراحي شوی دی، خو په نو ۱۹۰۹ کې دوه ځله او په ۱۹۱٦ او ۱۹۲۱ کې یو یو ځل بدل شو څو چې په ۱۹۲٦ کال کې د یوه ستوري ښه ځان ته غوره کړه، چې ګرد چاپېره یې زېړه دایره چاپېره شوې وه. تر نن پورې د بنز نښنا همداسې پاتې دی.
د دغه شرکت د جوړېدو تاریخ ۱۹۲٦ کال ته ورګرځي، هغه وخت چې بنز اندسی، دایملر موتورن او ګیزلشافت شرکتونه سره یو ځای شول.
وروسته ټولو یو ځای شوو شرکتونو کوښښ وکړ چې تر یوه نامه لاندې فعالیت پیل کړي، خو د ټولو په نظر او خوښه نوم نه پیدا کېده، ځکه هره یوه شرکت ځان بر او تاریخي ګاڼه، تر دې چې د شرکت نوم مرسدس جلینک شو، دوی خپل لومړني موټر تر همدې نامه لاندې بازار ته وړاندې کړل. تر دې چې بېرته د ۱۹۲٦ کال په جون میاشت کې د مرسدس بنز په نامه موټرونه بازار ته وړاندې شول او تر ننه پورې یې نوم همدا دی.
د دې کمپنۍ بنسټګر کارل بنز دی. کارل بنز د ۱۸۴۴ کال په نومبر کې د آلمان په کاسروه ښار کې نړۍ ته راغلی دی. کله چې د دوو کالو و، پلار یې ومړ، سره له دې چې اقتصادي حالت یې ښه نه و، خو مور یې هغه ته د زده کړو او تعلیم زمینه برابره کړه. کارل بنز د فردیناند رتین بافر تر نظر لاندې خپل ښوونځی خلاص کړ. وروسته د کاسروه پوهنتون ته ولاړ او د مسلکي زده کړو لپاره یې متې بډ وهلې. په همدې وخت کې چې په پوهنتون کې یې زده کړې کولې، د فني زده کړو او مسلکي کار په برخه کې یې یوه دوه کلنه دوره پای ته ورسوله. هغه په دې توګه خپله تجربه پیدا کړه او د خپل مسلک عملي برخه یې هم زده کړه او نظري خو یې په پوهنتون کې لوستله.
ده له پوهنتون وروسته رسمي دندې واخیستې، لومړنۍ دنده یې په مانهایم ښار کې په یوه کارځای کې واخیسته، هلته یې د طراح دنده تر سره کوله. په ۱۸٦۸ کې یې خپله دنده له لاسه ورکړه او په یوه بل جرمني شرکت کې یې کار پیل کړ. دغه شرکت به تر ډېره د پلونو جوړولو، سړک جوړولو او د سړکونو او پلونو د ډیزاین کارونه پر مخ وړل.
وروسته د بن کیسر په نامه یوې کمپنۍ ته ولاړ، هغه په وین ښار کې ستره کمپنۍ وه. بېرته مانهایم ته ولاړ او هلته یې د یوه منیکانیک ناماګوست په مرسته یو شرکت جوړ کړ، وروسته مالومه شوه چې آګوست ښه ملګر نه دی او له هغه جلا شو. په پای کې د خپلې کوژدنې په مرسته برتا رینګر په دې بریالی شو چې پر ستونزو لاسبری شي او پر پښو ودرېږي. د بنز د بریا یو علت دا و چې برتا خپل ټول زیورات وپلورل او بنز وکړی شول چې د آګوست برخه په شرکت کې واخلي، په دې توګه له دوی بیل شو او اوس نو بنز خپل شرکت درلود، برتا او بنز واده وکړ چې له هغې واده پنځه اولادونه لري.
بنز په لومړي سر کې په خپل کار کې دومره بریالی نه و، خو دوی کوښښ کاوه او له خپل کار په شا کېدونکي نه وو، د دوی محصولات په وار وار د هغه وخت حکومت رد کړل، خو دوی ژمنه کړې وه چې موټر به جوړوي او د ماشینونو د تخنیک په برخه کې به بریا تر لاسه کوي. دوی ځان ته ځینې معیارونه وضعه کړل چې غوښتل یې د هماغو معیارونو پر بنسټ قوي موټرونه جوړ کړي.
دوی د خپلو ځانګړو موټرونو او ماشینونو د تولید لپاره کوښښ وکړ، دوی غوښتل داسې ماشینونه طراحي کړي چې وکړی شي خپل سرعت تنظیم کړي او لوړ سرعت واخلي.
دوی د همدې ماشین لپاره موټرسایکلونه جوړول. په ۱۸۸۲ کال کې یې یو ملګر پیدا کړ، هغه امیل بوهلر نومېده، د بوهلر ورور د یوه بانک د مالي څانګې مشر و، دوی د همدې بانک په مرسته او پور په مانهایم ښار کې د ماشینونو یو شرکت جوړ کړ. کارل بنز په دې شرکت کې د ۵۰ سلنې سهامو مالک و، نو د همدې لپاره د مدیره هیئت غړی و، خو هغه د نظر د څرګندولو دومره حق نه درلود، وروسته یې همکارانو کوښښ وکړ چې په شرکت کې خپل نفوذ ډېر کړي.
فریدریک د بایسکلونو کاروبار درلود، خو بنز بیا د موټرسایکلونو له تولید سره ډېره مینه لرله، د همدې کال په اکټوبر کې فریدریک بنز او دوو کسانو نورو د بنز انډ کو په نامه یو شرکت جوړ کړ، د دې شرکت کارکوونکي هغه وخت ۲۵ کسه وو. دغې کمپنۍ نو دومره وده وکړه چې هغه وخت یې د موټرسایکلونو بازار انحصار کړ، بنز بریالی شو چې خپل ډېر وخت د موټرسایکلونو تولید ته ورکړي او له همدې یې فکر د تیز رفتاره موټرونو د ماشین جوړولو ته واوښت.
دې ده لومړنی هدف په موټرونو کې پرمختللی ماشین و، ده غوښتل په ماشین کې داسې نوښتونه راولي چې موټر قوي او سرعت یې ډېر کړي. په ۱۸۸٦ کال کې بنز له خپل لومړني موټر مخکتنه وکړه. دا یې نو لومړنی څلور سلنډره ماشین و چې په موټر کې یې نصب کړی و.
لومړنی موډل یې بنز کمپنۍ په ۱۹۰٦ کال کې د آلمان موزیم ته ډالۍ کړ، دویم موډل یې څو ځله طراحي شو. دریېیم موډل یې د لرګي ټایرونه لرل او برتا د لومړي ځل لپاره د همدې موټر په مرسته اوږد سفر هم وکړ.
د ۱۸۹۴ او ۱۹۰۱ کلونو تر منځ بنز ویلو ماډل موټر په بنز انډ کو کمپنۍ کې مېلمه شو. دغو موټرونو ښه قیمت درلود او ټول ۱۲۰ دانې تولید شول. ورو ورو دا کمپنۍ پراخېدله، کارګران یې ډېرېدل او کارونه یې پراخېدل. دغه کمپنۍ په ۱۸۹۹ کال کې په یوه سهامي شرکت بدله شوه او جولیوس ګان یې د مدیره هیئت غړی شو، ده همدارنګه د بازارموندنې د برخې کار هم پر مخ وړ. یو وخت راغی چې کارګران یې ۵۰ تنه وو، خو په ۱۹۰۳ کال کې یو دم دا شمېره ۳۴۰ کسانو ته ورسېده.
د هغه دغه پرېکړه له یوه مدیر سره تر شخړې وروسته وکړه. عامل مدیر غوښتل چې د مانهایم موټر په طراحۍ کې له فرانسوي طراحانو استفاده وکړي څو وکړی شي له نورو کمپنیو سره رقابت وکړي، چې د شرکت د ډېرې غړو له غبرګون سره مخ شوه. ریچارد په ۱۹۰۴ کال کې بېرته د مسافر وړونکو موټرونو د جوړونې د برخې مدیریت واخیست چې په دې توګه یې دا برخه ډېره پر مخ بوتله او د همدې کال تر پایه پورې یې ۳۴۸۰ مسافر وړونکي موټر تولید کړي وو، چې په هغه وخت کې تر ټولو ستره شمېره وه.
په ۱۹۰٦ کال کې کارل بنز په لیډنبورګ کې یو شرکت جوړ کړ. د دغې شرکت سهم لرونکي دی او زامن یې وو، دوی هغه وخت ډېر کوښښ کاوه چې بخار ماشینونه موټرونو ته جوړ کړي، خو داسې نه وه. هغه وخت په ډېرې چټکۍ دا موسم بدل شو او د بخار د ماشینونو مینوال کم شول، نو دوی اړ شول چې خپل پلان بدل کړي. په ۱۹۲۳ کال کې بنز ۳۵۰ جوړ شو، چې په دې وخت کې د بنز ټوله کورنۍ لیډنبورګ ته ولاړه. په ۱۹۱۲ کې بنز همدا شرکت پرېښود او زامن یې په یوازې ځان د شرکت اداري ته پاتې شول. شرکت په چټکۍ پر مخ ولاړ او په بېلو بازارونو کې یې بېلې څانګې پرانیستې.



مارسدس بنز کمپنۍ اوس د نړۍ په کچه د موټرونو تر ټولو ستره کمپنۍ ده. دا کمپنۍ د قیمتي او با کیفیته موټرونو په تولید کې خپل نوم لري. بنز کمپنۍ اوس یوازې نه ده، لسګونه کمپنۍ یې تر اداره لاندې کار کوي او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ستر پلورنځایونه او د موټرونو ننداړتونونه لري.
مک لارن هم هغه شرکت و چې وروسته بنز کمپنۍ واخیست. دا کمپنۍ په اصل کې انګلیسي کمپنۍ وه، د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۹ کلونو ترمنځ بنز کمپنۍ له دې کمپنۍ سره کار ته لېواله وه، ځکه دوی د نوې ټکنالوژۍ پر بنسټ موټرونه جوړول او دا هغه کار و چې بنز کمپنۍ غوښت. په ۲۰۱۱ کال کې یې ام پي فور ۱۲ سي جوړ کړ او په ۲۰۱۲ کال کې یې بازار ته وړاندې کړل.
میباخ هم یو له هغو شرکتونو دی چې د بنز تر اداري لاندې کار کوي او دمګړۍ د سوپر لوکسو موټرونو د تولید کارځای دی. د بنز کمپنۍ ډېرۍ لوکس پر نوې ټکنالوژۍ سمبال او مډرن موټرونه همدلته جوړېږي.
بنز کمپنۍ اوس زرګونه کارکوونکي لري، چې په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه له دوی سره کار کوي. بنز په دې وروستیو کې پر وروستۍ ټکنالوژۍ سمبال موټرونه جوړوي، چې د ۲۰۱۷ کال لپاره یې ښکلې طرحه جوړه کړې ده. دا طرحه پر نوې ټکنالوژۍ د سمبال ځیرک بس موټر طرحه ده، چې ویل کېږي عملي کار یې هم پیل شوی دی. دا موټر به ډېرې اسانتیاوې ولري او لومړنیو اعلانونو یې خلک حیران کړي دي.
اوسنی مدیر یې دایته زیچه نومېږي، هغه اوس د بنز کمپنۍ عمومي مدیر دی او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د دې کمپنۍ اداره پرغاړه لري.
مرسدس بنز خپله د نړۍ د موټر جوړونې تر ټولو مډرنه کارخونه، د آلمان د سټوټګارټ ښار په «زیندلفینګن» سیمه کې د ۷۳۰ میلیونو ډالرو په پانګونې او په عین وخت کې د S کلاس له نوي موډل سره یوځای افتتاح کړه. له هغې اوسپنې سره چې د کارخونې د ۲۲۰ متره مربع سالون په جوړونه کې کارول شوې، کیدای شوای د ایفل برج پرې جوړ شي.
د دې کارخونې د چاپېریال ساتنې سټنډرډونه حتی د بادن ووتنمبرګ ایالت لومړی وزیر وینفرید کرچمان هم چې د پرانیستې په مراسمو کې یې ګډون کړی و، حیران کړ. د چت نږدې ۴۰ سلنه برخه په ختو ګلکاري شوې ده او پاتې برخه یې د فوټو ولتایک شبکې په نصبولو سره د کارخونې د اړتیا ۳۰ سلنه برېښنا برابروي.
مرسدس بنز په مجموع کې ۲ میلیارده او ۱۰۰ میلیونه یورو پانګونه کړې، څو تر ۲۰۳۹ کاله پورې د خپلو موټرو د کاربن د تولید کچه صفر ته ورسوي. دغه ډیجیټلي کارخونه په اوس وخت کې د ورته کارخونو په نسبت ۲۵ سلنه کمه برېښنا مصرفوي.
په نړۍ کې د لومړي ځل لپاره د موټر جوړونې د یوې کارخونې د تولید لیکه په بشپړ ډول ډیجیټالي شوې ده او د«جي ۵» له انټرنېټي شبکې سره کار کوي، چې په ځانګړې توګه د اریکسیون او «O2» شرکتونو په وسیله د مرسدس بنز لپاره طرحه شوې ده. ټول کسان، دستګاوې او وسایل د انټرنېټ په وسیله له یو بل سره وصل دي او اطلاعات تبادله کېږي.

همیانی

# خلک به څه وايي؟

ژباړه: حمیدالله حمیدي

دغي لنډي جملي زموږ د ډېرو شخصي، کورنۍ او ټولنیز ژوند له ستونزي او خنډ سره مخ کړی او زموږ روان یې تر فشار لاندې راوستلی دی.

د دې په اړه اندېښنه کول چې نور به زموږ په اړه څه وايي، که په تعادل او نارمل اندازه کې وي، ډېر هم بد نه دي. دغه ډول اندېښنه د دې لامل کېږي څو موږ د هغو تېروتنو او افکارو له تکرار څخه ډډه وکړو، چې زموږ د شرم یا زیان سبب کېږي؛ خو ستونزه هغه مهال لویېږي چې که د خلکو د خبرو په فکر کې اوسېدل له معمولي حده زیات شي، تر هغه اندازې چې زموږ په وجود کې د وېرې او سټرس د رامنځته کېدو لامل شي او زموږ د شخصي ژوند تصمیمونه تر خپل سیوري لاندې راولي.

د دغه فکر خپل سخت حالت ته رسېدل چې «خلک به څه وايي»، کولای شي د دې لامل شي څو موږ د خپل ژوند او کورنۍ ارامتیا یوازې د خلکو د فکر او خبرو په خاطر له خطر سره مخ کړو او د خلکو د کاذبې او لنډمهالې خوښۍ لپاره ژوند وکړو.

جالبه ده پوه شو چې خلک په هغه اندازه هم چې موږ یې فکر کوو، د نورو د یو یو حرکت په اړه قضاوت کولو ته وخت نه لري او ډېر کله زموږ منفي تصور له هغه څه زیات خطرناک دی چې په حقیقت کې پېښېږي.

دغه تصور چې گواکې خلک به زموږ په اړه څه وايي او څه فکر به کوي، زموږ له خیالاتو او تصور پرته بل څه نه دي. که ښه و اوسو او یا ښه ونه اوسو، خلک به خپلې تبصرې هرو مرو کوي. که چېرې زموږ د ودونو او خوښۍ په مراسمو کې خواړه زیات وي، وايي به چې «اسراف یې وکړ»، او که خواړه مو په منځنۍ کچه کې وي، وايي به چې «څه جبر و؟، اصلاً اړتیا نه وه چې داسې یو محفل ونیسي.»

خلک کېدای شي د څو دقیقو لپاره زموږ په اړه خبرې وکړي، نه هره ثانیه، هره دقیقه، هر ساعت او هره ورځ. هغوی هم خپل کار او ژوند لري او ښایي څو نور داسې کسان یې هم په ذهن کې وي، چې په اړه یې خبرې وکړي. نو باید راحت و اوسو او اجازه ورکړو هر څه چې وايي، ودې وايي.

که چېرې د خلکو په خاطر خپله تحصیلي رشته، دنده، گډ ژوند او ان خپل د جامو اغوستلو ډول وټاکو، هغه وخت زموږ په شخصیت کې څه پاتې کېږي، پرته له دې چې د یوې داسې نانځکې په څېر ښکار شو چې د ننداره چیانو د خوښۍ په خاطر هرې سندرې ته نڅا کوي او خپله تلپاتې خوښي د نورو د موقتي او لنډمهالې خوښۍ قرباني کوي؟

باید خپل ارزښتونه وپېژنو، په دې اړه پوره پوهه درلودل چې څه شی راته اړین دي او غواړو چې څه ډول یو شخص و اوسو، له موږ سره ډېره مرسته کوي څو د خلکو په خبرو او فکرونو پسې ونه گرځو او له خپلې خوښې سره سم خپل ژوند ته دوام ورکړو.

موږ نه شو کولای چې ټول له خپل ځانه راضي وساتو او دغه چاره ناشوني ده. نو د دې پر ځای چې خپل پام او انرژي د نورو د نظریاتو او خبرو په هکله فکر کولو ته وقف کړو، غوره ده چې خپلو هیلو او موخو ته یې پر رسېدو مصرف کړو. په داسې حال کې چې نور زموږ په اړه د خپلو منفي فکرونو د انرژۍ پر مټ زموږ روح او روان ته زیان رسوي، غوره ده چې د ژوند له ښکلاوو خوند واخلو. اجازه ورکړو هر څوک چې هر څه وايي، ودې وايي. که پوهېږو چې فکر او کار مو ښه او د خوښې وړ وي، اجازه ورکړو چې خلک هر څه وايي ودې وايي. دا چې فکر وکړو چې خلک به زموږ په اړه څه وايي، په اصل کې د خپلې ازادۍ د سلب کولو او اسیرولو په مانا ده. نو غوره ده چې ازاد ژوند وکړو او هر هغه څه چې د خپل ځان په خیر یې وینو، تر سره کړو.

که چېرې هر څوک و اوسو او یا په هر موقف کې و اوسو، د خلکو خولې نه شو تړلای، ځکه که وغواړو یا ونه غواړو، هغوی به خپلې تبصرې هرو مرو کوي او ډېری به داسې یې منفي تبصرې کوي، چې د هغوی له حسادت، کینې، لوړبینۍ او د کمترۍ له احساس څخه سرچینه اخلي.

نو باید راحت و اوسو او په یاد ولرو هغوی چې په موږ پسې خبرې کوي، په حقیقت کې په ژوند کې پر یو ثابت ځای باندې ولاړ دي، هېڅ ډول پرمختگ او لاسته راوړنې نه لري او نه شي کولای چې زموږ مقام او موقعیت ته را ورسېږي. هغوی د ډېرې کینې او حسادت له مخې پر موږ پسې خبرې کوي. ودې وايي، هر څومره چې کولای شي خبرې دې وکړي. په ځواب کې یې موږ هم خپلو بریاوو او لاسته راوړنو ته دوام ورکوو او دا کېدای شي چې د هغوی پر وړاندې تر ټولو غوره ځواب وي.

که چېرې د خلکو خبرو ته پام وکړو، باید ځینې اقتصادي زیانونه هم وزغمو. په ودونو، ختمونو، شیریني خوړیو او ډېرو نور مراسمو کې باید له حده زیات لگښتونه وکړو، ځکه دې ته اندېښنه لرو چې خلک به څه وايي.

د افغانستان په گوټ گوټ کې رواج دی چې ځینې قومونه خپلې خویندې او لوڼې بل قوم ته نه ورکوي او یا خپل ورور او زوی ته له بل قوم څخه واده نه کوي، هغه هم یوازې له دې امله چې خلک به څه وايي. خلک به وايي چې فلانۍ نجلۍ یا هلک له فلاني قوم څخه دی او یا فلاني کس له فلاني قوم سره خپښي کړې. په داسې حال کې چې مقابله کورنۍ کېدای شي د خپل زوی یا لور لپاره یوه غوره کورنۍ وي او دغه زوج یو نېکمرغه او له خوښیو ډک ژوند ولري؛ خو یوازې د خلکو د خبرو په خاطر کېدای شي دغه اړیکې او خپلوۍ جوړې نه شي، له همدې امله ډېر ځله د همدې دلیل پر بنسټ دوه مینن یو بل ته نه دي رسېدلي او د همدې بې مانا دلیل په خاطر یې یو له بل سره واده نه دی کړی. نو راځئ چې دغې ناخوښ او بې مانا رسم او رواج ته د پای ټکی کېږدو. بیا هم وایم چې نشو کولای د خلکو خولې له خبرو وتړو. باید اجازه ورنه کړو چې د خلکو هغه خبرې چې ښایي اصلاً یې زموږ په اړه ونه وايي، زموږ لپاره پر یوه ذهني اختلال او بوختیا بدلې شي او زموږ د ژوند خوښۍ او ازادۍ را څخه واخلي.

### خلک په کومو مواردو کې په تاسو پسې خبرې کوي؟

#### ۱ـ کله چې تاسو یو بریالی شخص یا ست

په ډېری مواردو کې خلک هغه مهال په تاسو پسې خبرې کوي چې تاسو داسې یوې موخې یا بریا ته رسېدلي وی، چې هغوی ورته د رسېدو وړتیا او توان ونه لري. هغه پرمختگونه کینه زېږوونکي دي چې معمولاً پر تاسو پسې د غیبت زېگنال له ځان سره ولري. هغه کسان چې بریالي کېږي، اړ کېږي څو ځینې ټولنیزې او فرهنگي ناخوالې پر ځان ومني. همدغه حقیقت پر تاسو پسې د خلکو د غیبت کولو دلیل دی.

په یاد ولرئ چې له هرې بریا وروسته مو د ځینو کسانو او ان ځینو ملگرو لخوا له تاسو سره حسادت، تخریب، بدبینۍ او منفي خبرې په بشپړه توگه یوه طبیعي چاره ده. له ځان سره مو حسادت کوونکي، بدبینه او مخرب کسان له پامه وغورځوئ او له هغوی سره د یو ناروغ په څېر له مهربانۍ ډک چلند وکړئ، پرته له دې به د ژوند اصلي موخو او هیلو ته له رسېدو وروسته پاتې شی.

#### ۲ـ کله چې ستاسو له ژوند سره حسادت کوي

په تاسو پسې د خلکو د خبرو کولو یو بل عامل دا دی چې هغوی ستاسو د ژوند له طرز او طریقې سره حسادت لري. تاسو ولې یوه غوره دنده لری؟ ولې یو ښه موټر لری؟ ولې ډېر سفرونه کوی؟ ولې د یوه ښکلي کور خاوند یاست؟ ولې تل بریا ستاسو په برخه ده او لسگونه نور «ولې»... نو خپل ځان مه ځوروئ. تاسو له هغوی څخه متفاوت یاست او دا په تاسو پسې د خبرو کولو یو لوی عامل دی.

#### ۳- هغوی د تر سره کولو لپاره نور غوره کارونه نه لري

په تاسو پسې د نورو خبرې کول په دې مانا دي چې هغوی په رښتیا هم د تر سره کولو لپاره بل گټور او غوره کار نه لري. طبیعي ده چې موږ ټول غواړو یو گټور او له لاسته راوړنو ډک ژوند ولرو، داسې یو ژوند چې له غیبت کولو او په نورو پسې له خبرو کولو ډېر غوره وي.

### نو کله چې نور په تاسو پسې خبرې کوي، څه باید وکړی؟

#### ۱ـ هېڅ هم مه کوئ

د لومړنیو کارونو له ډلې څخه یو کار چې باید پرې پوه شئ او درک یې کړی، دا دی چې هېڅ کار مو له وسې نه کېږي. کېدای شي وکولای شی هغه کس چې په تاسو پسې یې خبرې کړې دي، خاموش کړی یا خپل هغه عمل چې په تاسو پسې د هغوی د خبرو کولو لامل شوی دی، توجیه کړی. خو غواړی چې دغه کار په نړۍ کې له څو کسانو سره وکړی؟ ایا د تر سره کولو لپاره بل کار نه لری؟ ان که خپل ټول عمر هم پر توجیه کولو تېر کړی، هغوی به بیا هم له خپل موقف څخه لاس په سر نه شي، بلکې ستاسو په اړه د لا ډېرو او نوو دسیسو پر جوړولو او په تاسو پسې د خبرو کولو لپاره به په لا ډېرو مسایلو پسې وگرځي. یوازینۍ حللاره دا ده چې هغوی وبښئ او خپل ځان له ځورولو خلاص کړئ.

---

## کورنیو چارو وزارت: تېره میاشت د جگړو او نښتو له کبله ۲۴۸ ملکیان وژل شوي

کورنیو چارو وزارت وايي چې په تېره یوه میاشت کې په هېواد کې د جگړو او نښتو له کبله ۲۴۸ ملکیان وژل شوي او ۵۲۷ نور ټپیان شوي دي.

د دغه وزارت ویاند طارق ارین خبریالانو ته وویل چې دغه شمېر ملکیانو ته د طالبانو په بریدونو او د ماین په چاودونو کې مرگ‌ژوبله اوښتې ده. ارین زیاتوي، چې په تېرې یوې میاشت کې طالبانو لسگونه یرغلیز بریدونه او د ماین چاودنې کړې چې پکې زیاتره ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې.

د نوموړي په خبره، طالبان له ملکي اهدافو څخه د سپر په توگه کار اخلي او زیاتوي: «طالبان د خپلو یرغلیزو بریدونو لپاره ملکي اهداف په نښه کوي، دا جنگي جنایت دی. ملکیانو ته په ځانگړې ډول په وروستیو میاشتو کې درانه تلفات اوښتي، طالبان د دغو ملکي تلفاتو مسوول دي او هغه تحرکات او بریدونه چې طالبان یې ترسره کوي، په جنگي قوانینو کې جنایت بلل کېږي».



په ورته مهال طالبانو که څه هم تر اوسه په دې اړه غبرگون نه دی ښودلی، خو له دې وړاندې یې تل په ملکي مرگ ژوبله کې د خپلو جنگیالیو لاس لرل رد کړي دي.

کورنیو چارو وزارت داسې مهال د ملکي مرگ ژوبلې د لوړېدو خبره کوي، چې لا هم د هېواد په گڼو ولایتونو کې د جگړو او نښتو او دغه راز په ښارونو کې د هدفي بریدونو له کبله پر ښکېلو غاړو سربېره، ملکیانو ته مرگ ژوبله اوړي.

په ورته مهال د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وايي چې لا هم په دغه هېواد کې د ملکیانو هدفي وژنه دوام لري او اړتیا ده چې ژر تر ژره دغه بریدونه پای ومومي. د دغه کمېسیون مشرې شهرزاد اکبر وړمه ورځ په پروان کې د البیروني پوهنتون د عملې پر موټر برید چې پکې څلور استادان ووژل شول او ۱۱ تنه ټپیان شول اندېښنه ښودلې ده. اکبر پر خپل ټویټر کې لیکلي چې د افغانستان خلک اوربند، د سولې اغیزمنو مذاکراتو او د تاوتریخوالي پای ته رسولو ته اړتیا لري.

---

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,٤ |
| € | ۹٤,۹ |
| Rp. | ٤۹۸ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۹,۸ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
WAYGAL PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي لسمه | د ۲۰۲۱ د مي ۳۱مه | ۷۲٤مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳۹ | ٤۱ | ٤۰ | ٤۲ | ۳٦ |
| ۱٦ | ۲۱ | ۲۳ | ۲۷ | ۲۵ | ۲۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۰ | لمر ختل ۰۴:۴۲ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰۴:۵۱ | ماښام ۰۷:۰۰ | ماخوستن ۰۸:۳۶

## اعضای هیئت مذاکره‌کنندهٔ صلح برای مذاکرات با طالبان تا فردا به دوحه می روند



پس از یک ماه وقفه در مذاکرات صلح میان هیئت‌های جمهوری اسلامی افغانستان و طالبان، قرار است این مذاکرات دوباره ازسر گرفته شوند. نادر نادری، عضو هیئت مذاکره کنندهٔ جمهوری اسلامی افغانستان می‌گوید که قرار است شماری از اعضای این هیئت به امروز (دوشنبه) و یا سه‌شنبه به دوحه بروند. آقای نادری می‌افزاید که در نخست انتظار می‌رود هشت تا ده تن از اعضای هیئت مذاکره کنندهٔ جمهوریت به دوحه بروند.

این عضو هیئت مذاکره کنندهٔ جمهوریت تأکید می‌ورزد که نباید انتظار داشت تا مذاکرات با طالبان در ماه‌ها و حتا یک سال دیگر به نتیجه برسند: «یک تعداد ما دوشنبه، سه‌شنبه می‌رویم و به تعقیب آن تمام هیئت آنجا خواهند بود. برای جمهوری اسلامی افغانستان تأمین صلح، سرعت بخشیدن به ختم جنگ و ایجاد یک آینده مشترک از اولویت‌های ما است.»

هیئت جمهوریت به این باور است که طالبان برای شرکت معنادار در نشست ترکیه حاضر نخواهند شد، از همین‌رو به باور هیئت مذاکره کننده جمهوریت، مذاکرات در دوحه زمان گیر خواهند بود.

آقای نادری افزود: «این توقع که در یک ماه، دو ماه، شش ماه و یک سال به نتیجه برسیم، مانند سایر جنگ‌ها و مانند سایر پروسه‌های صلح، زود است.»

این درحالیست که دو روز پیش، حمدالله محب، مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهور گفت که از سرنوشت رهبر طالبان در یک سال پسین خبری نیست، ما طالبان این گفته‌ها را بی بنیاد می‌دانند و از آماده‌گی‌های این گروه برای ادامهٔ مذاکرات در دوحه سخن می‌زنند.

## نړۍ





## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر له ۱۷۰ میلیونو واوښت

په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۷۰ میلیونه او ۸۲۵ زره او ۷۷۳ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۵۵۲ زره او ۱۹۵ کسان مړه شوي او نږدې ۱۵۳ میلیونه نور ترې ببرته رغېدلي دي. د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۴ میلیونه او ۳۵ زره او ٦۷۸ ته رسېدلي او ٦۰۹ زره او ۴۲۹ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۲۷ میلیونه او ۹۹۸ زره او ۴٦۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱٦ میلیونه او ۴۷۱ زره او شپږ سوه مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ٦۵۷ زره او ۵۷۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د پنځه میلیونه او ۲۳۵ زره او ۹۷۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي. روسیه، بریټانیا، ایټالیا، ارجنټاین او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.


## راپورونه: اسراییل او مصر په غزه کې د اوږدمهاله اوربند د ټینګښت لپاره هڅې پیل کړي



د اسراییل او مصر د بهرنیو چارو وزیرانو په د اسراییل او فلسطین ترمنځ د اوږدمهاله اوربند پر ټینګېدو په قاهره کې لیدلي دي. دوی له حماس سره د سولې د تړون په غښتلتیا او د غزې په بیا رغولو بحث کړی دی. د مصر د بهرنیو چارو وزیر سامح شوکري په یوه بیان کې ویلي، دا خبرې په غزه کې د اوربند او د سولې د ټینګښت لپاره د مصر د دوامداره او نه ستړې کېدونکو هڅو په لړ کې شوې دي. د اسراییل د بهرنیو چارو وزیر ګابي اشخېنازي هم قاهرې ته تر سفر مخکې په یوه ټویټ کې ویلي وو چې دی به له حماس سره د دایمي اوربند په مسئله بحث وکړي او هم به په دې غږېږي چې څنګه د بشري مرستو لپاره یوه تګلاره جوړه شي. د مصر دولتي تلوېزیون ویلي چې د دغه هېواد د ولسمشر عبدالفتاح السیسي لەخوا د استخباراتو رییس عباس کمال تل‌ابیب ته استول شوی، څو د اسراییل له صدراعظم بنیامین نتانیاهو سره وغږېږي. عباس کمال به رام‌الله ته هم ځي، څو له فلسطیني چارواکو سره خبرې وکړي. د یادونې ده چې د مصر، امریکا او ځینو نورو هېوادونو په منځګړیتوب د حماس او اسراییلو ترمنځ ۱۱ ورځنۍ سختې جګړې د مي په ۲۱مه ودرېدې. په دغو بریدونو کې تر ۲۵۰ فلسطینیان چې پکې تر ۱۳۰ زیات ملکیان او ماشومان دي، ووژل شول. د اسراییلو خوا ته د ۱۳ کسانو د وژل کېدو راپور ورکړل شوی.


## ژوند

## د دغو خوړو او مېوو خوراک مو خوب خرابوي



ځینې خوراکي توکي داسې وي چې په ډېر شوق سره یې خورو او د روغتیا لپاره ډېر ګټور او اغېزناک هم ګڼل کېږي، خو که چېرته له خوب وړاندې وخوړل شي، نو زیانمن تمامېږي. د هیلیت لین ویبپاڼې د راپور له مخې، ویل کېږي چې ځینې خوراکي توکي داسې وي چې د ورځې لخوا د بدن لپاره ګټور وي او د شپې لخوا منفي اغېزې کوي. ډېرې اوبه لرونکې خواړه؛ په هغو خوړو کې چې ډېرې اوبه وي لکه خربوزه، بادرنګ او دې ته ورته له نورو باید ډډه وشي. کېلې؛ د شپې لخوا د کېلې له خوراک ډډه وکړئ، ځکه د کېلې په جوړښت کې کلسیم ډېر وي چې دفاعي سیستم او پوستکي ته ګټور وي؛ خو د شپې لخوا خوړل یې بدهضمي او بلغم پیدا کوي. وچې مېوې؛ بادام، پسته او چارمغز د وینې لوړ فشار کنټرولوي او د زړه لپاره ګټور وي؛ خو دغه مېوې ډېره کالوري او غوړ لري چې د شپې لخوا یې خوړل وزن ډېروي.

## د ریډمي واچ ځانګړنې



د شیاومي کمپنۍ یو څانګه، ریډمي، غواړي خپل نوی ځیرک ساعت او ریډمي نوټ۱۰ اېس نومی ځیرک موبایل معرفي کړي. دغه ځیرک موبایل او ساعت به د مې په ۱۳مه کاروونکو ته معرفي شي. خو له دغې نېټې څخه وړاندې په فلېپ کارټ کې د ریډمي کمپنۍ د دغه ځیرک ساعت تصویرونه او ځینې ځانګړنې خپاره شول. د دغه ځیرک ساعت لپاره د فلېپ کارټ د ځانګړې شوې پاڼې د معلوماتو پر بنسټ، دغه ځیرک ساعت چې ریډمي واچ نومول شوی دی، به مربع ډوله ډیزاین او رنګه مخ‌پاڼه ولري. د ریډمي واچ له لارې کاروونکي کولی شي ۱۱ مختلف ورزشونه او له امله یې سوځول شوې کالوري ردیابي کړي. دغه ځیرک ساعت به د خوب او زړه ضربان د څارلو وړتیا هم ولري. دې غونډې کې به ریډمي نوټ۱۰ اېس هم معرفي شي. دغه ځیرک موبایل به ٦۴ مېګاپکسله اصلي کامره او ورسره درې نورې کامرې هم ولري. ریډمي نوټ۱۰ اېس به د مېډیاټېک هېلیو جي۹۵ ډوله پروسېسر، سوپر امولېډ ډوله مخ‌پاڼه او ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ولري. دغه ځیرک موبایل به له ۳۳ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank